د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Deputy PM for Economic Affairs Office
د مطبوعاتو رياست







محترم ملا عبدالغنـــی برادر آخند: تمام صنعت‌کاران و تاجران باید به‌جای پاکســـتان از مســـیرهای تجارتی بدیل استفاده کنند

د اریانا افغان هوایي شرکت د هوایي کارګو له لارې یو کیلو صادراتي ســـوداګریز توکي په یـــو ډالر انتقالوي

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ســـمنګان او بلخ ولایتونـــو لـــه زلزله ځپلـــو سره خواخـــوږي او غم شریکي وکړه

SPEECH OF THE DEPUTY PM FOR ECONOMIC AFFAIRS, MULLAH ABDUL GHANI BARADAR AKHUND, DELIVERED AT THE MEETING HELD WITH THE COUNTRY'S INDUSTRIALISTS, TRADERS AND REPRESENTATIVES OF THE ESTEEMED MINISTRY OF FINANCE ON REDUCING RELIANCE ON PAKISTAN FOR TRADE

"

موږ هـــوډ کړی چـــې د افغانســـتان اقتصادي وضعیـــت به په ریښتینې معنی پیاوړی کوو او د نورو له تکیې او احتیاج به یې خلاصوو. اسلامي امارت د هېواد د اقتصادي وضعیت د ښه کېدو له پاره د ملي او سیمه‌ییزو پروژو ملاتړ کوي. په هرات ولایت کې د ټاپي پـــروژې د کارونو جریان ثابتوي چې موږ په ســـیمه کې اقتصادي همغږي، متقابله همکاري او ثبات غواړو.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

# آبادي
مياشتنۍ


ګـــڼه ۸
عقرب - ۱۴۰۴ ل.ل
پرله‌پسې ۲۳مه ګڼه


# ABAADI


@FDPM_AFG
dpmea.gov.af
@FDPM_AFG

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
Deputy PM for Economic Affairs Office
د مطبوعاتو ریاست

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام
على سيدنا محمد وآله وصحبه أجمعين

# ابادي
مياشتنی

۸ گڼه
عقرب - ۱۴۰۴ هـ.ش
پرله‌پسې ۲۳مه گڼه

| | |
|---|---|
| **د امتیاز خاوند:** | د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت |
| **کتنپلاوی:** | مولوي عبدالله عزام، مولوي ذبیح الله ناصر، امان الله حنیفي<br>فضل ولي شیراني او نجیب الله مایار |
| **مسئول مدیر:** | مولوي خالق داد تقي |
| **ډیزاینر:** | عطاءالرحمن سعید |
| **فوټوژورنالیست** | حجت الله قاضي زاده |



مرمرینه ماڼۍ، ملک اصغر څلورلارې، کابل

0202107500

media@dpmea.gov.af

dpmea.gov.af



- د مجلې له مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.
- استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مآخذ مجاز است.

# لړلیک


سرلیکنه ۱

غونډې ۲ - ۷

سفرونه، لیدنې کتنې او انفوګرافیک ۸ - ۱۷

د اقتصادي موضوعاتو اړوند مقالې ۱۸ - ۳۰

English Section 1 - 2

# سرلیکنه



د ازبیکستان او افغانستان ترمنځ ګډ هوکړه‌لیک لاسلیک شوی، چې له مخې به یې د افغانستان کرنیز محصولات د ازبیکستان هوایي دهلېز له لارې منځنۍ اسیا، جنوبي اسیا، اروپایي هېوادونو او د ازبیکستان بازارونو ته ولېږدول شي. دا ګام په داسې حال کې پورته شوی چې د اسلامي امارت لوړپوړو مسوولینو وار له مخه پر یوه هېواد د تکیې را کمولو په موخه د بدیلو لارو په کارولو ټینګار کړی. په رښتیا هم د هېواد د صادراتو او سوداګرۍ د پراختیا او یا هم د ګاونډیو هېوادونو له لوري د افغانستان د صادراتو او ترانزیټ پر وړاندې وخت پر وخت د خنډونو د را پیدا کېدو له امله اړینه ده چې بدیلې لارې پیدا شي. د دې لارو څخه یوه هم هوایي دهلیزونه دي چې په کارولو سره به یې وکولای شو د افغانستان اقتصاد د یو شمېر هېوادونو له برمتې وژغورو. همدا اوس زموږ ګاونډي پاکستان د افغانستان د سوداګرۍ او ترانزیټ پر وړاندې خپل ټول بندرونه تړلي دي. صادرات او ترانزیټ دواړه بند دي، چې له امله یې د دواړو هېوادونو سوداګرو ته په میلیونونه ډالر زیان اوښتی دی. دا کار لومړی ځل نه دی، بلکې په پنځوسمه لسیزه کې هم یاد هېواد سوداګریز او اقتصادي مسایل له سیاست سره تړلي و او دا لارې یې بندې کړې وې. مطلب دغه ګاونډی چې هر وخت وغواړي پر افغانستان فشار راوړي، نو د اقتصادي او سوداګریزو مسایلو څخه د فشار د الې په توګه کار اخلي او غواړي پر افغانستان خپلې غوښتنې ومني. خو اسلامي امارت دا مخکې له مخکې په پوره دقت او ځیرکتیا سنجولې او په پوره سنجش یې د دې فشار د له منځه وړلو او خنثی کولو له پاره ګامونه پورته کړي دي. د بدیلو ځمکنیو لارو په برخه کې افغانستان اوس مهال په یوه او دوو هېوادونو متکي نه دی. دا مهال افغانستان د منځنۍ اسیا او چابهار بندرونو په څیر ان له اروپا سره وصل دی او په دې برخه کې لا هم هڅې روانې دي چې د واخان دهلیز له لارې له چین سره هم وصل شي. همدا لامل و چې د اسلامي امارت د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له سوداګرو سره په ناسته کې له پاکستان سره د هر ډول سوداګرۍ د نه ترسره کېدو اعلان وکړ او له سوداګرو یې په کلکه وغوښتل چې له بدیلو لارو خپله سوداګري ترسره کړي. له دې سره هممهاله یې د هوایي دهلیزونو د رامنځته کېدو له پاره د اریانا افغان هوایي شرکت څخه وغوښتل چې بهرنیو هېوادونو ته د صادراتو ترسره کېدو له پاره کارګو الوتکې وپیري او سوداګرو له پاره د صادراتو او وارداتو بیې راټیټې کړي. د اریانا افغان هوایي شرکت مسوولینو ویلي چې د نومبر له ۱٦ مې د هغو مالونو لېږد د یوې کیلو کرایه یو امریکایي ډالر وي، چې له افغانستانه صادرېږي او دغه راز به د وارداتي مالونو یوې کیلو لېږد کرایه اتیا سېنټه وي. دا یو ښه او پرځای ګام دی او له دې سره به موږ وکولای شو خپل سوداګریز او صنعتي تولیدات او محصولات پر وخت انتقال کړو. د هوایي دهلیزونو په جوړېدو سره به له یوه لوري پر یوه هېواد له متکي کېدو خلاص شو او له بل لوري به صادراتي توکي پروخت انتقال او د دې ترڅنګ به د ځینو محصولاتو لکه تازه میوې او نورو طبي بوټو د فاسدېدو مخه هم ونیول شي. دغه راز به افغانستان نور اړ نه وي چې که ګاونډي هېوادونه پرې خپلې سوداګریزې لارې تړي، نو دوی به دې فشار ته تسلیمېږي. د هوایي دهلیزونو له لارې به زموږ سوداګري پراخه او له دې سره به مو نه سوداګر زیان ویني او نه بزګران.



د اقتصادي کمېسیون، تخنیکي، د پانګونې بین الوزارتي او له سکټوري ادارو سره د موسسو او مرستندویانو د ستونزو او مسایلو د حل کمېټو

# غونډې

# د څه باندې دوه میلیارده افغانیو په ارزښت
# د پانګونې لس طرحې تایید شوې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمیسیون نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د عقرب میاشتې په څلورمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. د اقتصادي کمېسیون دې غونډې ته له اجنډا سره سم په مختلفو ولایتونو کې د شاوخوا دوه میلیارده او ۲۷۴ میلیون افغانیو په ارزښت د پانګونې لس طرحې د تایید لپاره وړاندې شوې، چې له هراړخیزې ارزونې وروسته تایید شوې.

په دې طرحو کې د تخار ولایت په خواجه غار ولسوالۍ کې دوه پوړیز سوداګریز مارکېټ ، د جوزجان ولایت په مرکز شبرغان ښار کې د پنځه پوړیز سوداګریز مارکیټ ، د خوست ولایت په مرکز خوست ښار کې د لس پوړیز سوداګریز مارکیټ ، د لغمان ولایت په مرکز مهترلام ښار کې د پنځه پوړیز مارکیټ ، د کابل ښار په یوولسمه ناحیه کې د اته پوړیز سوداګریز مارکیټ او د کابل ښار په لومړۍ ناحیه کې د اته پوړیز سوداګریز مارکیټ جوړول دي.

په دې طرحو کې د کابل ښار په لسمه ناحیه کې د ۲۰ پوړیزې سوداګریزې او استوګنیزې ودانۍ جوړول، د ننګرهار ولایت د مرکز جلا آباد ښار په وچ ډنډ سیمه کې د ځمکتلي سوداګریز مارکیټ جوړول او د هرات ولایت په اسلام کلا سوداګریز بندر کې د سوداګریز کمپلکس جوړول هم شامل دي چې د اړتیا وړ ټول امکانات به ولري.  د هرات ولایت په ګذرې ولسوالۍ کې په ۱۵۰ جریبه ځمکه د میوه لرونکو ونو د پالنې د قوریې جوړول بله هغه طرحه وه چې په دې غونډه کې تایید شوه.

د یادونې وړ ده چې د پانګونې پورته ذکر شوې طرحې د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت تر چتر لاندې د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې له لوري په هراړخیز ډول څېړل شوې او د تاییدۍ په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شوې وې.

یادې پرېکړې د نهایي تصمیم نیونې په موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه‌الله تعالی دفتر ته واستول شوې.



# مسودهٔ پالیسی استفاده از منابع داخلی در پروژه های اســتخراج معادن قابل تأیید دانســته شــد

جلســه نوبتی کمیتهٔ تخنیکی کمیسیون اقتصــادی، به تاریــخ ۱۲ عقرب ۱۴۰۴ خورشیدی در قصر مرمرین برگزار گردید. در این جلسه، مسودهٔ پالیسی استفاده از منابع داخلــی در پروژه‌های اســتخراج معادن از ســوی وزارت معادن و پترولیم برای بحث ارائه شد. پس از ارزیابی همه جانبه، این مسوده قابل تأیید دانسته شد و برای تصمیم‌گیری نهایی به کمیســیون اقتصادی راجــع گردید. بــا تطبیق این پالیسی، مهارت‌های فنی و حرفوی نیروی کاری در بخش استخراج معادن ارتقا می یابد، فرصت‌های دایمــی کاری در پروژه هــای معدنی ایجــاد می‌گــردد، میزان اســتفاده از منابع داخلی در این پروژه‌ها افزایش می‌یابد، اتکا بــر واردات کاهش پیــدا می‌کند و زمینه برای رشــد صنایع داخلــی و اقتصاد محلی نیــز فراهم می شــود. همچنین در این جلســه در مورد شماری از موضوعات دیگر نیز بحث صورت گرفت و به نهادهــای مربوطه توصیه های لازم ارائه گردید.



# د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې
# د پانګونې پر یوشمېر طرحو بحث وکړ

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د عقرب میاشتې په شپږمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته په کابل ښار کې د ځمکتلي سوداګریز مارکېټ او سوداګریز ورزشي کمپلکس جوړولو او همداراز په بلخ ولایت کې د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحې د بحث لپاره وړاندې شوې. له مفصل بحث وروسته یادې طرحې اړوندو وزارتونو او ادارو ته راجع شوې او مسوولینو ته یې سپارښتنه وشوه، څو د یادو طرحو هراړخیزه ارزونه ترسره او راپورونه یې په ټاکلي وخت د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.






## د پانګونې په دوو طرحو بحث وشو

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د عقرب میاشتې په ۲۰مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. غونډې ته د هلمند ولایت په مرکز لښکرګاه ښار کې د دوه استوګنیزو او سوداګریزو مارکېټونو د جوړولو طرحې د بحث لپاره وړاندې شوې. له مفصل بحث وروسته یادې طرحې اړوندو ادارو ته راجع شوې او مسوولینو ته یې دنده وسپارل شوه، څو د یادو طرحو هراړخیزه ارزونه ترسره او راپور یې په ټاکلي وخت د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

## د کرنې وزارت اړوند د عوایدو لوړولو درې طرحې د تایید وړ وبلل شوې


د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د عقرب میاشتې په ۲۶مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. غونډې ته له اجنډا سره سم د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت اړوند د کرنیزو څېړنو، کرنیزو تخمونو، د مالدارۍ خدمتونو او حیواني روغتیا او د نباتاتو د ساتنې او قرنطین ریاستونو له لوري د عوایدو لوړولو طرحې د بحث لپاره وړاندې شوې. په غونډه کې له هراړخیز بحث وروسته یادې طرحې د تایید وړ وبلل شوې او د نهایي تصمیم نیونې په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شوې. د یادو طرحو په تطبیق سره به د کرنیزو او مالدارۍ محصولاتو کیفیت او کمیت لوړ، بهرنیو هېوادونو ته به یې په صادراتو کې اسانتیاوې رامنځته او په ورته وخت کې به د کرنې وزارت عواید هم ورسره زیات شي.



# له سکټوري ادارو سره د موسسو او مرستندویانو د ستونزو او مسایلو د حل عالي کمېټې لومړۍ غونډه ترسره شوه

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د عامه اړیکو د رئیس په مشرۍ له سکټوري ادارو سره د موسسو او مرستندویانو د ستونزو او مسایلو د حل عالي کمېټې لومړۍ غونډه د روان کال د عقرب په ۲۱مه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. په غونډه کې په سکتوري وزارتونو او ادارو کې د تفاهم لیکونو د لاسلیک پروسې پر اوسني وضعیت، د ځنډ پر لاملونو او حل لارو هر اړخیز بحث وشو. د غونډې ګډونوالو د موسساتو د فعالیتونو د تنظیم او انسجام د شته طرزالعمل پر بشپړ پلي کېدو ټینګار وکړ او ویې ویل، په دې سره به اوسنۍ ستونزې حل، پروژې او پروګرامونه به د هېوادوالو له اړتیاوو سره سم پلي شي. پر یادو موضوعاتو له هر اړخیز بحث وروسته تصمیم ونیول شو، چې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت دې هر تفاهم‌لیک د موسساتو په طرزالعمل کې د درج شویو ۱۵ ورځو په جریان کې له سکټوري ادارو سره تعقیب کړي، ترڅو ستونزه مشخصه او حل لاره ورته پیدا شي. دغه راز په غونډه کې پر دې هم هوکړه وشوه، چې له سکټوري ادارو څخه دې لومړیتوبونه راټول او له تمویلوونکو بنسټونو سره دې شریک شي. همدا راز پرېکړه وشوه، چې د موسساتو لپاره چمتو شوی طرزالعمل دې ټول ښکېل اړخونه په بشپړ ډول تطبیق کړي.





# سفــرونه

## لیدنې کتنې او انفوگرافیک

## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د دلتا انټرنشنل کمپنۍ له اجرائيوي رئيس سره وکتل

د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان کال د عقرب مياشتې په دوهمه نيټه، د سعودي عربستان «دلتا انټرنشنل» کمپنۍ له اجرائيوي رئيس شاهر التقي سره په داسې حال کې وکتل چې د امريکا پخواني ځانګړي استازي زلمي خليلزاد هم حضور درلود. په دې ليدنه کې دواړو لورو د ګازو د اکتشاف، استخراج او د ګازو د نل ليکو غځولو په اړه خبرې وکړې. د ياد شرکت اجرائيوي رئيس د افغانستان د نفتو او ګازو په برخه کې د پانګونې له پاره لېوالتيا څرګنده کړه او ژمنه يې وکړه چې له افغان انجنيرانو سره به خپلې تجربې شريکې کړي.





## د اریانا افغان هوایي شرکت د هوایي کارګو له لارې یو کیلو صادراتي سوداګریز توکي په یو ډالر انتقالوي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د عقرب میاشتې په ۱۳مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې د اړوندو وزارتونو او ادارو له مسوولینو سره د هوایي کارګو له لارې بهرنیو هېوادونو ته د افغانستان د سوداګریزو توکو په ځانګړې توګه د وچو او تازه میوو د صادراتو په اړه دوهمه تعقیبي غونډه ترسره شوه.

د غونډې په پیل کې د اړوندو وزارتونو او ادارو مسوولینو په لومړۍ غونډه کې د ورسپارل شوو کارونو راپورونه وړاندې کړل. د یادو راپورونو له وړاندې کولو وروسته د اریانا افغان هوایي شرکت ته هدایت وشو، چې له دې وروسته یو کیلو صادراتي سوداګریز توکي په یو ډالر او یو کیلو وارداتي سوداګریز توکي په ۸۰ سېنټه انتقال کړي. همدارنګه د مالیې او ترانسپورټ او هوایي چلند وزارتونو ته هدایت وشو، چې د اریانا افغان هوایي شرکت ته په خپلو فیسونو کې ۹۰ سلنه تخفیف ورکړي. د اریانا افغان هوایي شرکت ته همداراز هدایت وشو، چې څومره ژر ممکنه وي یوه کارګو الوتکه هم وپېري.

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سمنګان ولایت له زلزله ځپلو سره خواخوږي او غم شریکي وکړه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د عقرب میاشتې په ۱۴مه نېټه سمنګان ولایت ته سفر وکړ او هلته یې د زلزلې له امله له زیانمنو شویو هېوادوالو سره د خواخوږۍ په موخه ولیدل.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په زلزله کې د شهیدانو شوو هېوادوالو روح ته دعا وکړه، د شهیدانو کورنیو ته یې تسلیت ووایه، ټپیانو ته یې د عاجلې روغتیا هیله وکړه او ځان یې د هغوی په غم کې شریک وباله.

محترم ملا صاحب وویل، اسلامي امارت ستاسي تر څنګ ولاړ دی او ډاډ درکوي چې د خپلو ټولو امکاناتو په چوکاټ کې به د سرپناه جوړولو، کورونو ابادولو او نورو برخو کې شته ستونزو ته رسېدنه وکړي.

محترم ملا صاحب له ټولو هغو خیریه بنسټونو، سوداګرو او هېوادوالو څخه مننه وکړه، چې په دې سخت وخت کې یې له زلزله ځپلو سره مرسته کړې ده. محترم ملا صاحب یوځل بیا هم پر ټولو شتمنو هېوادوالو، سوداګرو او نړیوالو خیریه بنسټونو غږ وکړ، چې د دې دردونکې پېښې له قربانیانو او زیانمنو کورنیو سره مرسته وکړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیانمنو شویو هېوادوالو ته د کورونو ابادولو، سرپناه جوړولو، د ټپیانو درملنې او نورو برخو کې د ستونزو د حل لپاره نغدي مرستې ورسولې چې د سمنګان ولایتي مسوولینو له لوري به په شفاف ډول ووېشل شي.



## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سمنگان له والـي سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سمنگان ولایت ته د خپل سفر پرمهال د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د عقرب میاشتې په ۱۴مه نېټه د سمنگان له والي محمد شعیب رسالت او د زلزله ځپلو ستونزو ته د رسیدنې له پاره د ټاکل شوو کمېټو له مسوولینو سره د ولایت په مقام کې وکتل. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په مختلفو برخو کې د ټاکل شوو کمېټو له مسوولینو څخه د دوی اړوندو برخو کې د ترسره شوو کړنو راپورونه وغوښتل. د یادو کمېټو مسوولینو په خپلو راپورونو کې وویل، تر دې مهاله یې د زلزلې له امله ټولو زیانمنو شوو هېوادوالو ته لومړني خوراکي توکي، دارو درمل، البسه، خیمې او د سرپناه اړین توکي رسولي. هغوی زیاته کړه، د سطحي ټپیانو عاجله درملنه شوې او هغوی چې اوږدې درملنې ته اړتیا لري، نغدي مرستې ورسره شوې دي. محترم ملا صاحب د یادو کمېټو له ترسره شوو کارونو څخه مننه وکړه او له هغوی څخه یې په ټینگار سره وغوښتل چې ژر تر ژره د سمنگان ولایت په ټولو زلزله ځپلو سیمو کې د شهیدانو، ټپیانو، په بشپړ ډول د نړېدلو کورونو او په نیمه ډول د زیانمن شوو کورونو سروې بشپړه کړي او پر زیانمنو خلکو د اسلامي امارت له لوري په پام کې نیول شوې مرستې په شفاف ډول ووېشي. په سمنگان ولایت کې د زلزلې له امله ۱۳ هېوادوال شهیدان او ۳۴۴ ټپیان شوي دي. دغه راز ۴۱۹ کورونه او ۱۲ جوماتونه په بشپړ ډول نړېدلي او ۵۹۳ کورونه په نیمه ډول زیانمن شوي دي.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د بلخ ولایت د زلزله ځپلو ستونزو ته د رسېدنې کمېسیون له مسوولینو سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هېواد شمالي ولایتونو ته د خپل سفر په ترځ کې د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د عقرب میاشتې په ۱۵مه نېټه په بلخ ولایت کې د زلزله ځپلو ستونزو ته د رسېدنې لپاره د ټاکل شوي کمېسیون له مسوولینو سره د ولایت په مقام کې وکتل. په لومړي سر کې د دغه کمېسیون مسوولینو د زلزله ځپلو ستونزو ته د رسېدنې په موخه په مختلفو برخو کې د ترسره شوو کارونو راپور وړاندې کړ. هغوی وویل، تر دې مهاله د ټولو ټپیانو درملنه شوې ده، زیانمنو شوو ته لومړني خوراکي توکي، ادویه، البسه، خیمې او د سرپناه اړین توکي رسېدلي. هغوی زیاته کړه، د سروې تخنیکي ټیمونه په زیانمن شوو سیمو کې لا هم لگیا دي، څو په کره ډول د اوښتو ځاني او مالي زیانونو کچه معلومه کړي. محترم ملا صاحب د دغه کمېسیون د ترسره شوو کارونو له امله مننه وکړه او ټینگار یې وکړ چې د سروې له بشپړېدو وروسته دې په سمدستي ډول پر زیانمنو هېوادوالو د اسلامي امارت له لوري په پام کې نیول شوې مرستې په شفاف ډول ووېشي. په بلخ ولایت کې د وروستۍ زلزلې له امله په اوو ولسوالیو کې ۱۰ هېوادوال شهیدان او ۴۴۷ ټپیان شوي. دغه راز ۷۵۱ کورونه په بشپړ ډول نړېدلي، ۱۲۵۰ کورونه او ۱۲۰ د څښاک اوبو ذخیرې په نیمه ډول زیانمن شوي او همداراز ۴۲۷ څاروي هم تلف شوي.

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند:

# تمام صنعت‌کاران و تاجران باید به‌جای پاکستان از مسیرهای تجارتی بدیل استفاده کنند



محترم ملا عبدالغنی برادر آخند، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، بتاریخ ۲۱ عقرب سال ۱۴۰۴ خورشیدی در قصر مرمرین، در حالی‌که مسئولین وزارت‌های مالیه و صنعت و تجارت نیز حضور داشتند، در سخنرانی خود در نشست با تاجران و صنعت‌کاران، تصمیم امارت اسلامی افغانستان را در مورد استفاده از مسیرهای تجارتی بدیل اعلام کرد.

معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء گفت که تمام صنعت‌کاران و تاجران باید به‌جای پاکستان، از مسیرهای دیگر برای تجارت استفاده نمایند تا در این زمینه گام‌های عملی برداشته شود و صادرات و واردات کشور با مشکل مواجه نگردد. معاون اقتصادی ریاست الوزراء افزود که مسیرهای پاکستان نه‌تنها به تاجران ما زیان رسانده است، بلکه بازارها و مردم عادی کشور را نیز با مشکلات روبه‌رو ساخته است.

محترم ملا صاحب گفت: «از طریق این اطلاعیه، امارت اسلامی خود را از مسؤلیت رها می‌سازد و به صراحت به شما می‌گوید که اگر پس از این اطلاعیه همچنان تاجران کالاها را از طریق پاکستان وارد یا صادر کنند، در صورت بروز مشکلات، امارت اسلامی هیچ‌گونه رسیدگی نخواهد کرد و صدای آنها را نخواهد شنید.» محترم ملا عبدالغنی برادر آخند گفت که مشکل اساسی بخش صحی و به‌طور کلی خروج صدها میلیون دالر، ناشی از واردات دوای بی‌کیفیت از پاکستان است و از واردکنندگان

دوا از پاکستان با تأکید میخواهم که واردات خود را از کشورهای دیگر و از مسیرهای جایگزین انجام دهند و در اسرع وقت از راه‌های بدیل استفاده نمایند. «اگر کسی در پاکستان قرارداد یا خریدی انجام داده باشد، سه ماه مهلت داده می‌شود تا در این مدت همهٔ حساب‌های خود را آنجا تصفیه کنند و کار را خاتمه دهند.»

محترم ملا صاحب به وزارت مالیه هدایت داد که سه ماه پس از این تاریخ، اجازه واردات دوا از پاکستان داده نشود و به هیچ‌کس اجازه داده نشود تا آنها را وارد کنند.

محترم ملا صاحب در این نشست افزود که امارت اسلامی افغانستان همواره در چارچوب سیاست های اقتصادی محور خود روابط تجارتی سالمی با کشورهای همسایه حفظ کرده و همیشه نیز آن را حفظ خواهد کرد؛ اما اگر کشورهای دیگر از سیاست معقول ما سوءاستفاده نمایند، ما نیز مجبور خواهیم شد که به راه‌های بدیل بیندیشیم.

به گفته محترم ملا صاحب، از آن‌جا که پاکستان بارها مسیرهای تجارتی را مسدود کرده و از مسائل تجارتی و بشری استفاده سیاسی نموده است و در نتیجه، تاجران و صنعت‌کاران هر دو کشور متضرر گردیده‌اند، امارت اسلامی ناگزیر شد این تصمیم را اتخاذ کند.

محترم حاجی ملا صاحب گفت: «اگر پاکستان خواهان باز شدن مسیرها است، این کار تنها با تضمین‌های محکم و معتبر انجام خواهد شد؛ تضمین‌هایی که در هیچ حالت و شرایطی منجر به بستن مجدد مسیرها نگردد.»

محترم ملا عبدالغنی برادر آخند اظهار داشت که افغانستان اکنون کشوری است که برای صادرات و واردات خود به مسیرها و دهلیزهای مختلف دسترسی دارد، اتکای آن تنها به یک کشور نیست بلکه روابط و مناسبات تجارتی آن با کشورهای منطقه و همسایه نسبت به گذشته چندین برابر تقویت یافته است.

محترم ملا صاحب افزود: «تنوع مسیرها ما را عملاً از فشارهای اقتصادی و سیاسی محافظت می کند. خداوند متعال با فراهم‌سازی تنوع مسیرها و سیاست‌های مناسب، ما را از وضعیتی بیرون آورد که با مسدود شدن یک مسیر، قیمت اجناس در کشور بالا می‌رفت و فشار سنگین بر مردم وارد می‌شد.»

امارت اسلامی افغانستان به‌صورت پیوسته در تلاش است تا برای اتصال منطقه‌ای و بین‌المللی، مسیرهای بدیل جدید ایجاد کند و مسیرهای موجود را از نظر زیربنایی و تخنیکی معیاری و با ظرفیت بسازد.

امارت اسلامی افغانستان این تصمیم را در حالی اعلام کرد که بیش از یک ماه می‌گذرد که پاکستان تمامی مسیرهای تجارتی با افغانستان را بسته است و تاجران در نتیجه آن میلیون‌ها دالر زیان دیده‌اند.

## د ۱۴۰۴ لمریز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ۵۸۰ میلیون ډالـرو په ارزښـت وچـې او تـازه میوې صادرې شـوې دي

افغانســـتان د روان ۱۴۰۴ لمریـــز کال په لومړیو شـــپږو میاشـــتو کې د ۵۸۰ میلیون ډالرو په ارزښـــت وچې او تازه میوې بهرنیو هېوادونو ته صادرې کړې دي. دغه صادرات هند، روســـیې، چین، ازبیکستان، سعودي عربســـتان، قزاقســـتان، قطر، ایران، عراق، متحده عربي اماراتو، پاکستان، تاجکستان او یوشمېر نورو هېوادونو ته شوي دي. انځر، پســـته، بادام، چهارمغز، ممیز، جلغوزي او یوشمېر نورې وچې هغه میوې دي چې بهر ته صادرې شوې دي. همدا ډول په تازه میوو کې بیا انگور، زردالو، انار، مڼې، خټکي، گیـــلاس، هندوانې، ناک او یوشـــمېر نورې میوې شاملې دي. دغه صادرات د ځمکنیو لارو سربېـــره د هوایي دهلیـــز له لارې هم ترسره شـــوي دي. د افغانســـتان اسلامي امـــارت د تېـــرو څلـــورو کلونـــو پرمهال د سوداگرۍ کچې زیاتېدو او په ځانگړې ډول د صادراتو ته ځانگـــړې پاملرنه کړې ده. په همدې موخه یې گاونډیو، ســـیمې او نړۍ هېوادونـــو سره د ځمکنیـــو لارو جوړولـــو، اوسپنې پټلۍ شـــبکو غځولو او همدارنگه د هوایي دهلېزونو د فعالولو په برخه کې رغنده گامونه پورته کړي دي.



# د پنجشیر پارنده برېښنا تولیدي فابریکه
## ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د عقرب میاشتې په ۲۲مه نېټه د پنجشیر پارنده برېښنا تولیدي فابریکه ګټې اخیستنې ته وسپارله.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د صنعت د پرمختګ لپاره برېښنا اړینه وبلله او ویې ویل، چې افغانستان له کونړ سیند نیولې د هلمند او فراه تر پراخو لمر لرونکو دښتو او د هرات او نیمروز تر چټکو بادونو پورې د برېښنا تولید لپاره بې شمېره سرچینې لري. هغه زیاته کړه، د برېښنا په برخه کې خودکفایي ته رسېدل اسلامي امارت په خپلو لومړیتوبونو کې نیولي او په دې برخه کې اساسي هڅې کوي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په خبره، د برېښنا په برخه کې په خودکفا کېدو سره به افغانستان د بې کیفیته وارداتو پر ځای باکیفیته توکي بهر ته صادروي او هېواد ته به د پانګې راتلو دروازې پرانیستل شي.

په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند پر ټولو سوداګرو او پانګوالو غږ وکړ چې په افغانستان کې د صنعت او په ځانګړي ډول د برېښنا د تولید په برخه کې پانګونه وکړي او اسلامي امارت ډاډ ورکوي، چې هر ډول اسانتیاوې ورته برابروي.

د پنجشیر پارنده برېښنا تولیدي فابریکه څلور مېګاواټه برېښنا تولیدوي، چې تر ډېره به د دغه ولایت د اوسېدونکو د برېښنا ستونزې ورسره حل شي.



# له اوبو څخه
# د برېښنا تولید په برخه کې د اوبو بندونو جوړولو پروژې

د افغانســـــتان اسلامي امارت په مختلفو ســـــکتورونو کې د پانګونې لپاره خورا ښه فرصتونه برابر کړي. ټول کورني او بهرني پانګوال کولی شـــــي په دې سکتورونو کې په پوره ډاډ سره پانګونه وکړي. اسلامي امارت د هر ډول همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکوي.

| شمېره | د پروژې نوم | موقعیت | د پروژې ظرفیت (میګاوات) | کلنی برېښنا تولید | شته اسناد |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د قلعه مامي د اوبو برېښنا پروژه | تخار | ۴۴۵ | ۱۷۵۶,۵ | د شونتیا څېړنه |
| ۲ | د ساګي د اوبو برېښنا پروژه | کونړ | ۳۰۰ | ۱۱۹۱ | د لومړنۍ شونتیا څېړنه |
| ۳ | د ګردګاو د اوبو برېښنا پروژه | تخار | ۲۳۷ | ۹۵۴ | د لومړنۍ شونتیا څېړنه |
| ٤ | د پای کتِه سنګ د اوبو برېښنا پروژه | دایکندي | ۱۲۰ | ۵۷۸,۴ | د پېژندنې راپور |
| ۵ | د اولمباغ د اوبو برېښنا پروژه | اروزګان | ۹۰ | | لومړنۍ سروې |
| ٦ | د خان آباد ۲ د اوبو برېښنا پروژه | کندوز | ۱۰,۴ | ۳۹,۱ | د شونتیا څېړنه |



**یادونــه:** هــر پانګوال کولی شــي خپلــې د پانګونې طرحــې په لاندې ادرســونو د ریاســت‌الوزراء اقتصــادي معاونیــت تــه راولېــږي:

**برېښنالیک:** AIIMC@dpmea.gov.af

**اړیکې شمېره:** ۰۲۰۲۱۰۰۹۷۶



# مقالي

## د اقتصادي موضوعاتو اړوند :

# د افغانستان غالۍ
## او په صادراتو کې یې ونډه

فضل ولي شیراني

په دې لیکنه کې په افغانستان کې د لاسي صنایعو، غالیو او په صادراتو کې د هغه د ونډې او ارزښت په اړه خبرې شوې دي.



## سریزه

غالـــۍ که د افغـــان کلتـــور، تاریخ او هـــنري ذوق ښـــکارندويي کوي، ترڅنګ يې د سوداګرۍ په برخه کې هم غوښنه ونډه لري. څکه غالۍ د افغانستان د صادراتو يوه مهمـــه برخه جوړوي. د هېـــواد زرګونه کورنیو اقتصاد په ځانګړي ډول کليوالو ســـيمو کې د غاليو په صنعت پورې تړلی دی. د قالينو پلور د ډېرو افغانانـــو لپاره د عايد يوه مهمـــه سرچينه ده. مګر دا صنعـــت پر افغانســـتان لومـــړۍ د روســـانو او بيا د امريکايانو د يرغل له امله ډېر زيان وليد. په هېواد کې د غاليو صنعت تقريبا په ټپه ودرېد، لامل يې دا و چې زياتره هغه افغانان چې پـــر دغه صنعت بوخت وو، د جګړو له امله د هېواد پرېښـــودو ته اړ شول او ګاونډيو هېوادونـــو ته يې پناه يـــووړه. د کډوالـــۍ پرمهال د افغانانو په لاس اوبدل شوې غالۍ د هماغه هېوادونو

په نامه نړيوال مارکيټ تـــه صادرېدې. ولې په هېواد کې د اشغال له پای ته رسيدو او د اسلامي امارت په راتګ سره ډېر غالۍ اوبدونکي افغان کډوال هېواد ته راســـتانه شـــول او دلته يې يو ځل بيا د غاليو اوبدلو صنعت تـــه وده ورکړه. اوســـمهال افغـــاني غالۍ د افغانســـتان پـــه نوم بهر تـــه صادرېـــږي. د هرات د ســـوداګرۍ او پانګونې خونه وايي، سږ کال بېلابېلو هېوادونو ته د افغاني غاليو صـــادرات څه باندې اويا سلنه زيات شـــوي دي. د دغې خونې د مسوولينو په خبره، په دې وروســـتيو مياشـــتو کې له پاکستانه د افغان کډوالو له را ســـتنېدو سره، هېواد کې د دوديزو غاليو توليد ډېر شـــوی او د افغانستان په نوم نړۍوالو بازارونو تـــه صادريږي. په دې ليکنه کې غواړو چې د افغانســـتان لاسي صنايعو، د افغانســـتان غالۍ او په صادراتو کې يې ونډې ته په لنډ ډول اشاره وکړو.



## د افغانستان لاسي صنایع

په افغانســـتان کې لاسي صنایـــع د هېواد د کلتور او اقتصاد یو مهـــم رکن دی او د خلکو په ژوند کې مهم رول لوبوي. لاسي صنایع دودیز مهارتونه دي چې له یوه نسل څخه بل هغه ته منتقل شوي او د افغانستان د تاریخ، کلتور او اقتصادي ودې ښـــکارندویي کوي. افغانســـتان بېلا بېل لاسي صنایع لري چې د هېواد بېلا بېلو ســـیمو ته پـــه پاملرنې سره دغـــه هنرونه او مهارتونه خپلې ځانګړې ځانګړتیاوې لري. موږ کولای شو په لاندې ډول یې مهمو هغو ته اشاره وکړو:

**لومـــړی: غالی اوبـــدل:** د افغانســـتان غالی د لوړ کیفیـــت او ځانګړو طرحو په درلودلو سره په ټوله نړۍ کې شـــهرت لري. پـــه لاس اوبدل شـــوې غالی په ځانګـــړي ډول ترکمنی او بلوچـــی غالی د هېواد د مهمو صادراتي اقلامو څخه شـــمېرل کېږي او د نړۍ ګوټ ګوټ ته صادرېږي.

**دوهم: ګیلم یا ټغر:** زمـــوږ د هېواد د خلکو په لاس اوبدل شـــوی توکی ټغر دی. دغه په لاس جوړ شوی فرش چې د هېواد په بېلا بېلو سیمو کې جوړېږي، د کلیوالو ښځو د یوه دودیز هنر ښکارندویي کوي.

**درېیم: کلالي:** د افغانستان د کلالي صنعت تاریخ په لرغونـــو تمدنونو پورې تړاو لري. د باختر، مرو، هرات، بلخ او غزني په لرغونو اثارو کې د خټو لوښـــي موندل شوي دي چې نږدې ۳۰۰۰ کاله پخواني دي. په هغو زمانو کې کلالي یوازې د خوړو او اوبو د ساتلو د لوښو لپاره کارېده، خو وروســـته دا یو هنري صنعت شو. دا صنعـــت د خلکو د ورځني ژوند یـــوه برخه ده او اوږد تاریخ لري.

**څلورم: مســـګري:** د افغانستان د مسګرۍ صنعت د زرو، نقرې او مســـو د توکو په کارولو سره ډېره پخوانۍ تاریخ لري. دغه صنعت په افغانســـتان کې د لرغونو تمدنونـــو لکه باخـــتر، هرات، غـــزني او بلخ څخه په میـــراث پاتـــې دی. ویل کېږي چې د افغانســـتان د پخوانیو تمدنونو خلکو له مسو او نقرې څخه ډېره ګټه پورته کوله او له دې توکو څخه یې نه یوازې د ورځني ژوند اړتیاوې پوره کولې، بلکې هنري او مذهبي توکي یې هم جوړول. هرات د مســـګرۍ لـــه امله ځانګړې شهرت لري، ځکه هلته د زرو، نقرې او مسو په کارولو کې ډېر پرمختګ شوی.

**پنځم: نجاري او حکاکي:** په افغانستان کې نجاري او حکاکي هم په دودیز ډول دوام لري. په ښکلي ډول حکاکي شـــوي د لرګي مصنوعات تولیدېږي او دا د لاسي صنایعو یوه مهمه برخه ده. دلته په دې صنایعو کـــې دروازې، کړکۍ، لوښـــي او ځینې نـــور توکي تولیدېږي.


**شپږم: زرګري:** په افغانستان کې په لاس له سرو زرو، ســـپینو زرو او قیمتـــي ډبرو څخه بېـــلا بېلې ګاڼې جوړېږي. دا هـــم زموږ د هېواد د لاسي صنایعو مهمه برخـــه جوړوي. دغه ګاڼې زیاتـــره د هرات او کابل په ښـــارونو کـــې د ماهرو او مســـلکي کســـانو په لاس تولیدېږي.

دا او دې ته ورته ځینې نور لاسي صنایع شـــته چې د افغانستان په صادراتو کې د پام وړ ونډه لري. له هغې جملې کولای شو د نقاشۍ، میناتورۍ، بوټ جوړولو، جامو جوړولو او نور صنعتونو ته اشـــاره وکړو. خو زموږ د لیکنې موضوع د افغانستان پر غالیو را څرخي نو

غــواړو دلته د افغانســـتان غاليـــو او د هغو تاريخي مخينې ته اشاره وکړو.

## د افغانستان غالۍ

افغانســـتان د نړۍ له هغو هېوادونو څخه دی چې د لاسي صنايعـــو، په ځانګړي ډول د غاليو يا قالينو په برخه کې ځانګړی شهرت لري. افغاني غالۍ نه يوازې د ښـــکلا، رنګونو او ډيزاين له امله مشهورې دي، بلکـــې د افغان کلتور، تاريـــخ او هنري ذوق ځرګندونـــه هـــم کوي. دا هـــنر د ســـلګونو کلونو راهيسې د افغان ولس د ژوند برخه پاتې شوې ده. په افغانســـتان کـــې د غاليو اوبدلـــو تاريخ اوږده مخينه لري. داسې ويل کيږي چې د غاليو لومړني ډولونه د هېواد د بدخشان، هرات، فارياب او بلخ په ســـيمو کې اوبدل شـــوي دي. همدا سلسله له هغه مهاله بيا تـــر نن پورې له پلار څخه زوی ته او له مور څخه لور ته لېږدول شـــوې ده او د وخت په تېرېدو سره يې خپلې دوديزې ځانګړتياوې ســـاتلې دي. افغاني غالۍ زياتـــره د قبيلوي ژوند انعكاس کوي؛ هره ســـيمه خپل ځانګړی ډيزاين، رنګونه او بڼه لـــري. لکـــه ترکمنـــي غالۍ د ســـور رنګ او هندسي بڼو له امله پېژنـــدل کېږي. بلوچي غالۍ بيا د تياره رنګونو او ســـاده ډيزاينونو لرونکې دي. هـــروي غالۍ بيا د ظريفو ګلانو او هنري نقشـــو له امله شـــهرت لري. دا چې غالۍ يا قالينې د هېواد په صادراتو کې څومره ونډه لري، لاندې يې لولو.



## غالۍ او په صادراتو کې يې ونډه

د هېوادونو د اقتصاد اړوند سکټورونو په برخه کې د اسانتياوو رامنځته کول او له دې برخو کلک ملاتړ د صادراتو د زياتوالي لامل ګرځي. صادرات د کورني صنعت او کاروبار د ګټې کچه لوړوي، د بازار نوسانات کموي، ځکه صادروونکی هېواد د نوساناتو په راکمېدو سره کولای شي بېلابېلو بازارونو ته لاسرسی ولري او د يو ځانګړي بازار د ټکني کېدو په صورت کې نورو بازارونو ته مخه کړي. همدارنګه د صادراتو د پراختيا په صورت کې کورني توليدوونکي د توليد د ډېرولو له لارې د خپلو توليدي توکو لګښتونه راکموي او په دې کار سره په نړيوال بازار کې زياته ګټه ترلاسه کوي. صادرات د تقاضا يوه برخه ده، ځکه خو د صادراتو په زياتوالي سره په ټوله کې تقاضا هم زياتېږي او په پايله کې يې اقتصادي پرمختګ ته لار هوارېږي. د دې تر څنګ د صادراتو ډېروالی د يو هېواد د سوداګرۍ بيلانس برابر ساتي. د صادراتو اهميت ته په پام سره يو هېواد بايد د خپل اقتصادي پرمختګ په خاطر خپل صادرات زيات کړي. اسلامي امارت د صادراتو اهميت ته په پاملرنې سره په دې برخه کې ګړندي ګامونه پورته کړي دي او پر دې توانېدلی دی، چې د تېرو کلونو په پرتله د صادراتو کچه لوړه کړي. افغانستان د خپلو يو شمېر صادراتي اقلامو له مخې په نړۍ کې شهرت لري، چې ښه بېلګه يې غالۍ دي. اوسمهال د دې مهمو صادراتي توکو په صادراتو کې زياتوالی راغلی دی. د دې مانا داده چې د غاليو يا قالينو صنعت ته پاملرنه زياته شوې او اسلامي امارت په دې برخه کې اسانتياوې رامنځته کړې دي. دغه راز اسلامي امارت د افغاني غاليو له پاره په کور د ننه او بهر کې د بازارموندلو له پاره خپلې هلې ځلې زياتې کړې دي. موږ او تاسو د دې شاهدان يوو چې د اسلامي امارت له راتګ څخه بيا تر دې مهاله په لسګونو په کور د ننه او نړيوال نندارتونونه جوړ شوي چې په ټولو کې افغاني غالۍ نندارې ته وړاندې شوې دي. همدا لامل دی چې کال په کال د افغاني غاليو د صادراتو کچه لوړېږي. د هرات د سوداګرۍ او پانګونې خونه وايي، سږ کال بېلابېلو هېوادونو ته د افغاني غاليو صادرات څه باندې اويا سلنه زيات شوي دي. د دغې خونې د مسوولينو په خبره، په دې وروستيو مياشتو کې له پاکستانه د افغان کډوالو له را ستنېدو سره، هېواد کې د دوديزو غاليو توليد ډېر شوی او د افغانستان په نوم نړۍوالو بازارونو ته صادرېږي. په لاس اوبدل شوې افغاني غالۍ د خپل لوړ کيفيت، ښکلې بڼې او بېلابېلو رنګونو له امله نړۍوال شهرت لري. د دغو غاليو ډېره برخه د افغانستان په شمالي او لويديځو سيمو کې توليدېږي. د غاليو د توليدوونکو او صادرونکو ټولنې د شمېرو له مخې، يوازې د هېواد په لويديځ زون کې له ۴۰۰ زرو زيات کسان د غاليو د صنعت په برخه کې په کار بوخت دي. له دې څخه دا معلومه شوه چې اسلامي امارت د هېواد د نورو صنعتي توليداتو ترڅنګ په نړيواله کچه د افغاني غاليو له پاره هم په پراخه کچه بازارموندنه کړې ده او دادی ورځ تر بلې د صادراتو په کچه کې لوړوالی راځي. له دې سره به له يوه لوري سوداګري پراختيا ومومي او له بل لوري به د لاسي صنايعو په برخه کې لا زيات پرمختګ رامنځته شي.

## پایله

دا چې د ټولنو اقتصادي پراختیا د هېوادونو ترمنځ د اړیکو په ټینګښت پورې اړه لري، په دې برخه کې چې کوم څه زیات رول لري، هغه ســوداګري ده، ځکه د ســوداګرۍ په پراختیا سره له یوه لــوري د هېوادونو اړیکې پراخېږي او له بل لوري د صادراتو په کچه کې زیاتوالی راځي. اســلامي امــارت سره له دې چې له نړیوالو بندیزونو سره مــخ دی، خو بیا یې هم د خپلو صادراتو کچه د تېرو کلونو په پرتله دوه برابره لوړه کړې ده. اسلامي امارت د یوه مسوول حکومت په توګه هڅه کوي چې د هېواد اقتصاد ورغوي، پر خپلو پښو یې ودروي او افغانستان د نړۍ له پرمختللو هېوادونو سره ســیال کړي، چې د دې هڅو یوه بیلګه یې همدا د صادراتــو د کچې لوړېــدل دي چې کولای شي د هېواد اقتصاد په پښــو ودروي. موږ او تاسو ته معلومه ده چې د افغانســتان د صادراتــو زیاته برخه افغاني غالۍ دي. نو په هره اندازه چې د دې توکي صادرات زیاتېږي په هماغه کچه به سوداګري پراخه او اقتصاد به د پرمختګ په لور ګامونه پورته کړي.



# طرح پنجساله معیشت بدیل؛
## گامی مهم در مسیر اقتصاد حلال و پایدار افغانستان

نجیب الله

**در این مقاله روی ضرورت طرح معیشـــت بدیل به دهاقین، کشت های بدیل کوکنار و اهداف طرح معیشت بدیل بحث شده است.**



## مقدمه

وزارت زراعـــت، آبیـــاری و مالداری امارت اســـلامی افغانســـتان به اســـاس فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی در مورد ممنوعیت کشـــت کوکنار، طرح پنج‌ساله معیشت بدیل را ترتیب و منظور نموده اســـت. این طرح با هـــدف فراهم‌ســـازی زمینه‌های اقتصادی حـــلال و پایدار برای دهاقین کشـــور، در بخش‌های زراعت، مالـــداری، منابع طبیعی و آبیاری تطبیـــق می‌گردد. ایـــن طرح با هدف فراهم‌ســـازی فرصت‌های مشروع، پایدار و درازمدت اقتصادی برای دهاقین کشـــور طرح شـــده تا زمینه‌ی وابستگی به کشت‌های غیرقانونی به‌ویژه کوکنار از بین برود و نظام زراعتی کشور به سمت تولید سالم، مشروع و خودکفا حرکت کند.

## ضرورت طرح معیشت بدیل به دهاقین

افغانســـتان در دو دهه گذشـــته یکی از بزرگ‌ترین تولیدکننـــدگان مواد مخدر در جهان بود. بخش قابل توجهی از عواید دهاقین در شماری از ولایات کشور از طریق کشت کوکنار تأمین می‌شد. با آن‌که این منبع عایـــد از نظر شرعی و اخلاقی نامشروع شـــمرده می شـــود، اما فقر، بیکاری و نبود گزینه‌های بدیل باعث شده بود که دهاقین ناگزیر شوند به آن ادامه دهند. با ممنوعیت رســـمی کشـــت کوکنار در ســـال ۱۴۰۲ خورشیدی از سوی عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی ، نیاز شـــدید به طرح‌های بدیل احساس شد تا از یک‌ســـو دهاقین متضرر نگردند و از ســـوی دیگر، اقتصاد کشور متوازن و سالم رشد کند. اکنون طرح پنج ساله معیشت بدیل در این مورد تدوین گردیده و با هدف فراهم‌ســـازی زمینه‌هـــای اقتصادی حلال و پایدار برای دهاقین کشور تطبیق می‌گردد. به منظور عملی‌ســـازی این طـــرح و ارزش افزایـــی محصولات زراعتـــی، حدود ۴،۷۹ میلیارد افغانی نیاز اســـت. با تطبیـــق این برنامـــه، در مجموع ۱۴۹ هـــزار و ۹۰۰ دهقان به گونه مســـتقیم و بیش از یک میلیون و ۴۹ هزار تن به گونه غیرمســـتقیم از آن مستفید خواهند شـــد. این طرح شـــامل پروژه‌هایی در زمینه توســـعه باغداری، احداث سبزخانه‌ها، رشد غله‌جات، انکشاف سکتور مالداری، بهبود سیســـتم‌های آبیاری و ایجاد مراکز آموزشی و معلوماتی برای دهاقین می‌باشد.

## کشت های بدیل کوکنار

در بخش معرفی کشـــت‌های بدیل، وزارت زراعت بر اســـاس وضعیت هر ســـاحه، نباتـــات متنوعی چون زعفران، هنگ، پنبه، گندم و ســـایر نباتات مشروع را برای دهاقین معرفی و ترویج نموده است که در این بخش، به‌طور مختصر وضعیت کشـــت و میزان تولید این نباتات به بررســـی می گیریم تا میزان پیشرفت و رشد حاصلات آن به‌روشنی مشخص گردد.

**زعفران:** زعفران از جمله محصولات ارزشمند زراعتی افغانستان به‌شمار می‌رود که شـــهرت جهانی دارد. این نبات از سال‌های گذشته تا اکنون در بسیاری از ولایت‌های کشور کشت می‌شود و دهقانان از آن سود خوبی به‌دســـت می‌آورند. کشـــت زعفران در ســـال ۱۴۰۳ بـــه ۳۰ ولایت کشـــور گســـترش یافته و این محصول به‌عنوان بدیل کشت کوکنار پیشنهاد شده

اســت. در میان ولایت‌ها، هــرات در تولید زعفران پیشــتاز اســت و گفته می‌شــود ۹۰ درصد زعفران تولیدشده در کشور از این ولایت به‌دست می‌آید. به باور برخی کارشناسان، اگر از دهقانان زعفران‌کار در کشور حمایت لازم صورت گیرد، افغانستان می‌تواند از این محصول عاید چشم‌گیری به‌دســت آورد. در سطح جهانی، افغانستان به‌عنوان دومین تولیدکنندۀ بزرگ زعفران شناخته می‌شود و زعفران این کشور در چندین سال پیاپی، از سوی نهاد بین‌المللی طعم در رقابت‌های جهانی مقام اول را کسب کرده است. بر اســاس آمار رســمی، در نه ماه نخست سال ۱۴۰۳ هجری شمسی، افغانســتان حدود ۴۲ هزار و ۲۰۰ کیلوگرام زعفران را به ارزش ۲۹ میلیون و ۵۸۸ هزار دالر به کشــورهای هند، اسپانیا، عربستان سعودی، امــارات متحدۀ عربی، فرانســه، اســترالیا، ترکیه و شماری از کشورهای دیگر صادر کرده بود. در همین حال، وزارت زراعت، آبیاری و مالداری اعلام کرده که در ســال ۱۴۰۳ هجری شمســی، در حدود ۹۵۰۰ هکتار زمین زعفران کشــت شــده بود که از آن ۴۰ متریک تُن زعفران به‌دست آمده است.


**هنگ:** هنگ یــا انغوزه در بازار جهانی بنام هینگ یا اسافوتایید یاد شده است. هنگ یکی از نباتات مهم طبی و بومی افغانستان محسوب می گردد. ۲۸ نوع این نبات در افغانستان تا حال شناسایی شده است که ســه نوع آن در افغانستان مشــهور است. هنگ بطور طبیعی در شــمال شرق و غــرب در دامنه های کوها ، بطور مزروعی و در غرب و شمال وجنوب افغانســتان میروید. در پایان بهار با تیغ زدن یا قطع ریشه یا قســمت پایین ساقه شیرۀ بسیار بد بو بیرون می آید که بعدا کم کم سخت می‌شود . گیاه هنگ در ماه عقرب کشت شده در ماهای ( حوت، حمل، ثور) سبز میباشــد و ضرورت به آب و دور کردن علف های هرزه دارد ولی در ۹ ماه دیگر ریشــه در زمین میباشد هیچ ضرورت به مراقبت نــدارد. هنگ در مناطق که بالاتــر از ۱۵۰ میلی لیــتر بارندگــی دارد میتوانید بصورت للمی کشت شود. هنگ در مقابل سردی هوا، و آفــات و بیماری هــای نباتی خوشــبختانه مقاوم میباشــد. کشت نهالچه نســبت به تخم بهتر است ، کشــت نهال ســال اول حاصل میدهد وکاشت تخم سال چهارم حاصل میدهد. انواع مرغوب در ارتفاعات ۷۰۰ الی ۲۴۰۰ متری از ســطح بحــر قابلیت نمو خوب دارد و سود دهی آن بسیار بالا است. بته هینگ در مدت ۳ الی چهار ســال به حاصل می‌رسد؛ یعنی می‌توانیم پس از ســال ۳ یا ۴ چهارم شیره آنرا جمع کنیم. این نبات گیاهی است که از عمر بالای برخورد دار اســت. این نبات از ارزش اقتصادی عالی برخورد دار اســت و بازار جهانی دارد. بر اساس ارقام رسمی در جریان ده ماه اول ســال ۱۴۰۳ خورشــیدی یک هزار و ۱۹۵ تُن هِنگ به ارزش بیش از ۱۱۱ میلیون دالر به کشــورهای هند، ازبیکستان، ایران و امارات متحده عربی صادر شــده است. این حاصلات بیشتر از ولایات غزنی، بلخ، فاریاب و بغلان بدست آمده.

**پنبه:** پنبه از سال‌های زیادی به این‌سو در شماری از ولایت‌های افغانستان کشت می‌شود و حاصل قابل

ملاحظه‌ای دارد. پنبه نه‌تنها در داخل کشــور مورد اســتفاده قرار می‌گیرد، بلکه به بیرون نیز صادر می شــود. با افزایــش فعالیت‌های صنعتی در کشــور، کارخانه‌هــای تولیدی نیز به پنبــه نیاز دارند. اگر به گسترش کشــت پنبه در داخل کشــور توجه صورت گیرد، نه‌تنها بــرای دهقانان عایــد خوبی به همراه خواهد داشت، بلکه برای صنعت‌کاران نیز مواد خام باکیفیت و با قیمت مناسب فراهم خواهد شد. گرچه ارقام تولید پنبه درسال جاری خورشیدی منتشرنشده اســت اما ادارۀ ملی احصائیه و معلومات می‌گوید که در ســال ۱۴۰۳ خورشــیدی در مجموع ۱۵۹ هزار متریک تُن پنبه در سراسر کشور تولید شده که نسبت به سال گذشته ۳۰ درصد افزایش را نشان می‌دهد. ادارۀ ملی احصائیه و معلومات، برای نخستین بار در ۱۵ ولایت کشور سروی پنبه را انجام داده‌است. منبع گفته، که در ســال ۱۴۰۳ خورشیدی در مجموع در سطح کشور ۱۵۹ هزار متریک تُن پنبه تولید گردیده است. ادارۀ احصائیه بدون ارایۀ جزئیات در مورد آمار تولید پنبه در سال گذشــته نوشته که در مقایسه با سال گذشته در تولید پنبه ۳۰ درصد افزایش به عمل آمده‌اســت. در اعلامیه آمده‌است که هلمند با تولید ۸۰ هــزار متریک تُن، بلخ با بیش از ۳۴هزار متریک تُن، قندهار با بیش از ۱۱ هزار متریک تُن، جوزجان با نزدیک به ۱۱ هزار متریک تُن و ننگرهار با بیش از ۵هزار متریک تُن پنبــه از ولایاتی اند که بیش‌ترین تولید پنبه را داشــته‌اند. براســاس تفســیر تصاویر ماهواره‌یی، سال گذشته در ۱۷ ولایت کشور پنبه کشت شده بود. هلمند با ۵۰ هزار هکتار بیش‌ترین و کاپیسا با ٦٦ هکتار کم‌ترین ساحۀ تحت کشت پنبه را داشته‌اند.

**گنــدم:** گندم غذای اصلی بخش بزرگی مردم جهان است و در افغانســتان نیز از سال‌ها پیش کشت می شود. در ســال جاری خورشــیدی در حدود ۴،۵۴ میلیون تُن گندم در کشور برداشت شده است. از این میان ۴،۱۳ میلیون تُن از زمین‌های آبی و ۴۰۴ هزار تُن دیگر از زمین‌های للمی به دســت آمده اســت. ادارۀ ملــی احصائیــه و معلومــات، با اســتفاده از تکنالوژی ریموت سنســینگ و تعبیر تصاویر ماهواره ای، ســاحات تحت کشت گندم در سطح کشور را در سال ۱۴۰۴ تثبیت نموده‌اســت. براساس معلومات این اداره، در این ســال در سراسر کشور حدود چهار اعشاریه ۵۴ میلیون متریک تُن گندم تولیده شده که ۴ اعشاریه ۱۳ میلیون متریک تُن آن آبی و ۴۰۴ هزار متریک تُن دیگر آن گندم للمی می‌باشــد. براساس یافته‌ها، بیشــترین میزان گندم آبــی در ولایت‌های هلمند (۸۴۸ هزار متریــک تُن)، کندز (۴۷۸ هزار)، هرات (بیش از ۴۱۰ هــزار)، قندهار (بیش از ٣٦٦ هزار)، و فراه (نزدیک به ۲۳۷ هزار متریک تُن) تولید شده‌اســت. همچنان، بیشترین میزان گندم للمی از ولایت‌های بادغیس، تخار و هرات به‌دست آمده‌است. مجموع ســاحۀ تحت کشت گندم در سال روان ۸۹، ۱میلیون هکتار زمین به‌سطح کشور بوده که از جمله ۱،۳۳ میلیون هکتار آن آبــی و ٥٦٢ هزار هکتار آن للمی می‌باشد، ارقام به‌دست‌آمده نشان دهنده آن

است که در سال روان نسبت به سال گذشته ۴ درصد در ساحهٔ تحت کشت آبی و ۲۴ درصد در ساحهٔ تحت کشت للمی کاهش آمده که عوامل عمدهٔ آن، خشک سالی، کمبود باران‌های موسمی به‌موقع و شیوع آفت های نباتی بوده‌است. با در نظرداشت تخمین نفوس، در مجموع به حدود ٦ اعشـــاریه ۸۷ میلیون متریک تُن گندم در سراسر کشـــور نیاز بـــوده که با توجه به تولیدات گندم در سال ۱۴۰۴، حدود ۲ اعشاریه ۳۳ میلیون متریک تُن کمبود را نشان می‌دهد.





## اهداف طرح معیشت بدیل

طرح معیشت بدیل به هدف ایجاد زمینه‌های کاری و تولیدی از طریق زراعت مشروع و پایدار، فراهم‌سازی بازار فـــروش برای محصولات محلـــی و جلوگیری از ضایع شدن محصولات، استفاده از زمین‌های سابق برای کشت گندم، زعفران، میوه، سبزیجات و نباتاتی طبی، ایجـــاد فابریکه‌های کوچک و متوســـط برای پروســـس محصولات زراعتی در داخل کشور و فراهم سازی تخم اصلاح‌شـــده، ماشین‌آلات زراعتی، قرضه های بدون سود و آموزش‌های مسلکی برای دهاقین تدویـــن گردیده. ایـــن برنامه نـــه تنها یـــک اقدام اقتصـــادی، بلکه یک گام اجتماعی نیز اســـت؛ زیرا باعث کاهش فقر، جلوگیری از مهاجرت‌ها و افزایش ثبات اجتماعی می‌شود. بسیاری از خانواده‌هایی که پیش از این از کشت کوکنار عاید داشتند، با تطبیق این طرح می‌توانند از طریق زراعت مشروع و صنایع محلی زندگی خود را تأمین کنند.





## نتیجه گیری

طرح پنج‌ســاله معیشــت بدیل یکــی از مهم‌ترین ابتکارات اقتصادی امارت اســلامی است که به‌گونه درست و شــفاف عملی می گردد و می‌تواند چهره‌ی اقتصادی افغانستان را تغییر دهد. این برنامه نه تنها ســبب رشــد زراعت مشروع و پایدار می‌شود، بلکه زمینه ای ثبات و تقویت اقتصــاد ملی را نیز فراهم می‌سازد. افغانســتان با داشتن زمین‌های حاصل‌خیز، منابع طبیعــی و نیروی کار فراوان، اگر در مســیر اقتصــاد حلال و تولیدی گام بردارد، بدون شــک به خودکفایی و استقلال واقعی اقتصادی خواهد رسید.

افغانستان در بخش زراعت فرصت‌ها و ظرفیت‌های فراوانی دارد که در صــورت توجه، می‌تواند بهترین بدیل برای کوکنار باشد. امارت اسلامی افغانستان در چهار ســال گذشته، در کنار منع کشــت کوکنار، به توسعه و گسترش کشت‌بدیل آن نیز توجه خاص کرده اســت. زعفران، هنگ (انغوزه)، پنبه، گندم و ســایر محصولات زراعتی با گذشــت هر سال رو به افزایش اند. افــزون بر این، برای فروش ایــن محصولات به بازارهای منطقه‌ای نیز راه‌هایی فراهم شده و اکنون با قیمت بسیار مناسب در بازارهای داخلی و خارجی به فروش می‌رسند.



We thank Allah that Afghanistan is currently a country that has access to multiple routes and corridors for its exports and imports; our reliance is not solely on one specific country, and our commercial relations with regional and neighbouring countries have become much stronger than before. This diversity of routes practically shields us from economic and political pressures. Through diversification of routes and appropriate policies, Allah has brought us out of a situation where the closure of one route would raise domestic prices of goods and impose burdens on the public.

The Islamic Emirate of Afghanistan is continuously working to create new alternative routes for regional and international connectivity and to upgrade existing alternatives technically and infrastructurally to high standards and capacities.
Moreover, the Islamic Emirate has always pursued and will continue to pursue an economy-centered policy with neighbouring countries and maintain sound commercial relations; however, if other countries misuse our reasonable policy, we are compelled to consider alternative measures.

Finally, I wish to focus on the core topic and make several recommendations to the country's industrialists, traders, and the esteemed Ministry of Finance to reduce reliance on Pakistan for trade:

**First:**

All of the country's industrialists and traders should turn to alternative routes instead of relying on Pakistan. This route has not only harmed our traders but has also caused problems for markets and the general public. I strongly urge all respected traders to promptly implement alternative options for exports and imports so that our trade is not exposed to disruption and delay. Also, for goods that have so far been procured from Pakistan, seek other countries and markets for purchase and import. By this notice the Islamic Emirate disassociates itself and clearly states that if, after this notice, traders continue to import or export goods through Pakistan, the Islamic Emirate will not address or respond to any problems that arise.

**Second:**

There is no doubt that a major problem in our health sector and the principal reason for the annual outflow of hundreds of millions of dollars is the importation of low-quality medicines from Pakistan. I urgently call on those importing medicines from Pakistan to shift their imports to other countries and routes as soon as possible. If anyone has contracts or purchases in Pakistan, they are granted a period of three months to settle all their accounts there and cease operations.
Because Pakistan has repeatedly closed trade routes and currently keeps them closed, and has politicized trade and humanitarian matters — thereby harming traders and industrialists of both countries — the Islamic Emirate was obliged to make the foregoing decision. If Pakistan seeks reopening of routes, it will be done under strict and reliable guarantees that prevent future closures under any circumstances.

**Third:**

I direct the esteemed Ministry of Finance that, after three months, no pharmaceutical products imported from Pakistan shall be permitted, and no one shall be allowed to import them.

Peace, mercy and blessings of Allah be upon you."

# SPEECH OF THE DEPUTY PM FOR ECONOMIC AFFAIRS, MULLAH ABDUL GHANI BARADAR AKHUND, DELIVERED AT THE MEETING HELD WITH THE COUNTRY'S INDUSTRIALISTS, TRADERS AND REPRESENTATIVES OF THE ESTEEMED MINISTRY OF FINANCE ON REDUCING RELIANCE ON PAKISTAN FOR TRADE



In the name of Allah, the Most Merciful, the Most Compassionate.

To the respected officials of the various agencies of the Islamic Emirate of Afghanistan, traders, investors, industrialists, and all guests present in the hall:

Peace, mercy and blessings of Allah be upon you.

I pray to Almighty Allah for your wellbeing and good health.

Honorable attendees,

Today we are gathered here to discuss several important matters aimed at sustainably managing trade relations with neighbouring and regional countries, safeguarding Afghanistan's strategic survival in the commercial arena, preserving the dignity of our people, and protecting the security of the country's policies — so that we may issue necessary recommendations to the nation's respected traders and relevant institutions in this area.

Fellow countrymen,

No one can deny the fundamental reality that all countries of the world require economic exchanges and relations with one another to meet their needs, and no country can fulfill all of its needs by itself. Moreover, with a view to economic growth, many countries intentionally do not seek complete self-sufficiency in every sector. Therefore, regional and international trade is a common and essential need among all countries, and legitimate commercial relations should not become victims of unreasonable politics.

Unfortunately, in the present era it has become common for trade relations, commercial routes, economic blockades, and the inhumane and illegal suffering of migrants to be used as political tools to exert pressure on a target country. These pressures become critical and severe when a country lacks alternative routes for its exports and imports and depends entirely on one country.

| | |
|---|---|
| **Publisher:** | Deputy PM for Economic Affairs Office |
| **Editorial Board:** | Maulvi Abdullah Azzam, Maulvi Zabehullah Nasir, Amanullah Hanifi, Fazal Wali Shirani and Najibullah Mayar |
| **Chief Editor:** | Maulvi Khaliq Dad Taqi |
| **English Translator:** | Sajad Ahmad K. |
| **Graphic Designer:** | Ataurahman Saeid |
| **Photojornalist:** | Hujjatullah Qazizadah |


Marmarin Palace, Malik Asghar Square, Kabul

0202107500

media@dpmea.gov.af

dpmea.gov.af

**Please provide proper attribution when using content from this magazine.**